محمد نقيب تره خيل ۲۰۱۱/۰۹/۱۴

# سپړنه او پيژندنه (مسعود)

که موږ انصاف خوښه ونکي شو نو بايد دا ومنو چې تاريخ هر هغه څه چې په ځان کې لري او د قدرت خاوندان يې موږ ته را زده کول غواړي. د پيړيو پيړيو څخه تاريخ د مهار شوي اوښ په څير د برياليو ځواکونو تر شاه روان دی.(هنري ستيل کوميګر) که د تاريخ لوستونکي او اورېدونکي له ځانه وپوښتي. آيا تاريخ چې د کومو سرېيو ذکر او د کارنامو تفصيلات موږ ته ښيي هغه واقعاً ريښتني دي؟ د دې پوښتني ځواب دادي چې موريخينود ژبې، قوم او ايډيا په تړاو، يا چې د وا کمنو او آميرانو نوکران پاتې شوی دي. د خپلې خوښی او ناخوښی پر بنسټ يې پيښې ورانې کړي او د تعين شوي پروګرام له مخی يې تاريخونه ليکلي، په هغو کې يې خپل باداران بې کچې ستايلي او دهغو پر شخصيت يې تر اندازې زياتې مبالغې کړي. دوی ته د همدې کار په وجه لوړې تنخاوې ورکول شوی. آيا له دوې نه دا هيله کول پرځای ده چې دوی دې د خپلو ممدوحينو په هکله موږ ته سهې او ريښتني حال ليکلای.
په لودېځ کې د ولسواکه حکومتو نه پخوا په ټوله نړۍ کې له پخوانيو زمانو څخه نيولې تر نن پورې تاريخ ليکونکو، واکمنو او ځواکمنو ډلو ته يې په تاريخ کې اساسې او مرکزي ځاي ورکړيدي. لامل يې دادي چې پدې هيوادونوکې ځاني، کورني او خود کامه واکمنی وې. زموږ په تاريخي کتابونو کې د واک لرونکو ډلو تاريخ په کې شته خو دعوامو خلکو دا نشته، د مذهبي علماوو دا شته د هغو د منونکو دا نشته، د ځمکه والو دا شته د بزګرانو دا نشته، د قومندانانو شته، د افرادو دا نشته، د پانګه والو دا شته د مذدورانو دا نشته. موريخينو په ځان د مينو مغرورو حاکمانو د لښکر کښيو، اتلوليو دځمکو د لاندې کولو د ولسونو د يرغمل کولو د شتمنيو دغنيمت کولو پيښې تاريخ جوړه ونکې ګڼلې. له الفاظو نه يې د الماسو اميلونه جوړکړي د مستبدو او ظالمو چار واکو نومونه يې پرې رنګارنګ ښکلي کړي. بل لوري ته چې د يادو پيښو دروند پيټې ټولنی پرېکړې او په خاموشۍ سره يې اغيزمنه کړی، او تهذيبې بدلون يې په کې راوستی خو تاريخ پوهانو پرې خپلې رڼې سترګې ړندې اچولي او په پوره بې غورې سره يې له پامه غورځولي. پنجشيري مسعود چې يو نوم ورکی کس وه په هيواد باندې نابرو تاريخي پيښو دهغه غم لړلي بخت وځلوه او د هغه نا پاکو هيلو او آرمانو پوره کولو ته ضمينه برابره کړه. مالي او پوځي امکانات يې په لاس ورکړل وهلو، شړلو، وژنو لوټلو، ړنګولو او سيزلو د شهرت لوړ معراج ته ورسوه. همژبو، هم لارو، ملاتړو او وارثينو يې"سردارې سردار نامدارې جهان مسعود عزيز قهرمان" او په لا زرينو القابو يې پدې وجه ستايي چې مسعود هم په ژوند ينې او هم پس له مرګه د چا يې د غنيمت په مالو ضمير وروژلی او د چې يې په سياسي رشوت.
په تاريخ کې نابرو پيښو ډېر ستر بدلونونه راوستلي. برياليي قوتونه يې ناکام او ناکام يې بري ته رسولی. او د تاريخ مخ يې په حيرانوونکي بڼه په څټ ګرځولی. مثلاً د پاني پت په دويم جنګ کې نږدې وه چې "هيمو" جګړه ګټلې وه چې نابره يې په سترګه غشی ولګيد . يو دم دجګړې لوري وڅرخيد اکبر بريالي شو. او د مغولو د کاواکه سلطنت د ټينګښت سبب وګرځيده، يا د واټرلو په جګړه کې د ناپليون په نس درد شو او د ناکامي سره مخامخ شو. په افغانستان کې د تيروڅلورو لسيزو نابره پيښو مسعود دسياست په کرونده کې اسلا ميست نهال کړ. د ۱۳۵۷سم کال اسلامي ضد کودتا يې حوادثو په پوځي سياست کې دفعاله لوبيدولار ورله پرانسته. کال وروسته په هيواد باندې د وخت د شوروي د حکومت د برغل په وړاندې د افغانانو تند ملي مقاومت په خاص ډول د پښتونو لخوا په اشغالګرو باندې مرګونو ګذارونو د کرملين د ماڼې ستنې وجړيقه ولې. د افغانانو په وينو ناټکل شوو حوادثو او کړکيچنو شرايطو سرې امپرا توری ته د ناکامۍ ازانګې واورهولې. شوروي مشران پدې پوه شول چې په مخامخ جګړه کې د ملي لښکرو تاب نلري نو پرې د بري په هيله د مقاومت په دننه کې د لستوڼي د مار په لټه کې شول. هاغه وه چې مسعود يې وموند. د کې جي بې څارګرو په اسلاميست مسعود کې سکتارلستي پيوند ولګوه. په ۱۳۶۲تم کال کې د دواړو خواوو ترمينځ د ډز بندې سند لاسليک شو. روسانو په پټه دهغه مالې، پوځي او سياسي ملاتړ کاوه په مطبوعاتوکې يې د اتل ګوريلايې قومندان په نامه تبليغه وه. په بدل کې مسعود د توپک شپيلې داشغالګرو پوځونو له لوري چپه د مقاو مت د جنګياليو خواته وګرځوله. پدې وجه جګړه لس کاله اوږده شوه او افغان ضد ميدياوو پدې موده کې هغه سل برابره غټ غبرګ او ستر رکلام کړ. که چيرې د مقاومت جنګياليو د کرملن دچارواکو زړونه نه وه په ټکان کړي او يا يې خدای مه کړه د مسعود په شان د خپلواکۍ د پلورمعامله يې له غليم سره کړی وه. له شکه پرته مسعود به د فلمي نړۍ د جيمز باند په څير خيالي او هوسي سوپر مان نه وه شوي. دير غلګر پوځ په وړاندې چې د ډېره کيو لخوامقاومت تند او پراخيده اشغالګرو له قهر نه دلږه کيو نه ملاتړ ډېره وه. روسانو له ډېره کيو څخه دماتې د غچ آخستوپه خاطر يې په پای کې د مسکو پلوه د پښتون نجيب الله پر حکومت مالې او پوځي مرستی چورلټې بندې کړې د دولت مخالف د لږه کيو داستازې او د مسکو ضد مسعود؟ ته يی هراړ خيزې مرستې پيل کړي. د روسانو سترګې نه غړېدې او نه غړيږې چې د ګټونکو ډېره کيو حکومت په کابل کې ووينې. له


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ایران او هند سره یې سیاسي، پوځي او اقتصادي اړیکو دا ضمینه ورته برابره کړه چې هغوي هم دمسعود ملاتړ ته رامات کړي. خو د ایران او دهند سیاستوال لا ړومبي لړه کیو ته مرسته پیل کړیوه.

هرد پاک ضمیر انسان دې قضاوت وکړي که د مسعود وفاداري روسانو ته د خپلو د ۱۵۰۰۰ د مړو شوو عسکرو د ۳۵۰۰۰ ټپي پوځیانو او د سوونومیلیاردو ډالرو د لګښت څخه زیات اربنت نه لره، نو روسانو خپل طرفدار ۱۴کلن حکومت په ۱۳۷۲یم کال کې مسعود ته سپاره؟ د شلمې پیړۍ وروستې لسیزه چې د کرملن د مشرانو لپاره د مالي بحران کلونه وه او د مفلسۍ له وجې یې د سختو شرطونو په منلوسره یې له غربي نړۍ پوراخسته. بیاهم یې څلور کاله په کابل کې او شیږو کاله د خنجان او خواجه بهاوالدین په څمحوکې د مسعود رباني حکومت له مالي او پوځي درکه سپوټ کړ. مسعود د واکمنۍ او له واک نه دشړل کیدو په ټوله موده کې خپلې ټولې هیلې ځواک ته سپارلې وی. قدرت ته د رسیدو په وخت کې یې نورې کمواکې اولړه کې قوتونه یې هم د ډېره کیو د پوپنا کولو په هیله له ځان سره مل کړیوه. خو حوادثو چې ژر ګیچ او بې سده کړ. په مخدره مواد دمعتاد کس په شان یې پخپلو ملګرو مخه راواړوله او په جګړه کیوت. هم یې پښتنو باندې بمونه اورهول اوهم یې هزاره او ازبکو باندې.د هغه دغضب له وجې دقامنو ترمنځ رقابت، دښمنۍ او کرکه داسې شدت وموند چې په ماشومانو، تورسرو اوسپین ږیرو هم مراعت نه کېده.

د مسعود پیروان خپل پیرد ټول افغانستان ساتونکې نوموي او دټول ملت غمخور یې ګڼي او په همدي اوتو بوتو کرزي ملي اتل نوملې. خو هغه چې د ځینو په ان د ۴ کالو او دلاره ویانو په ادعا یې ۱۰ کاله د هیواد د دفاع وزیر پاتې شوی. وزیر صیب دپلازمینې سربیره د پروان، کاپیسا بغلان تالقان، بدخشان او مزارشریف ولایتو ته ځیني وخت ځکه تللې چې په یادو ولایتو کې تاجکان د نورو قامونو په پرتله زیات میشت دي ترڅو دجګړو لپاره ترې سرباز ګیري وکړي. پدې دوه علتو کې خو به یو حتماً سهی وي. چې د افغانستان ساتونکي ته؟ نور ولایتونه پره دي ښکارېدل او که اوسیدونکو د ورتګ اجازه نه ورکوله؟ په غربي نړۍ کې قضاوت عجولانه نه وي. پولیس او محاکم د جانبین شکایات او ادعاوې اوري. ثبوت او مشاهدات راټولوي. قضیه په مدار خیږي بیا پرې فیصله کوي. په ترافیکي اشارو کې که نصب شوې کامرې په سره اشاره کې د تیر شوی موټرعکس هم اخستي وي، خوموټر چلونکي دعکس د لیدو سربیره پولیسو ته دلائل وایي. ترهغه جریمې ته غاړه نه ږدې چې په محکمه کې قاضي ته بې ځوابه شوی نه وی. خو سیاسي قضیې په کې برعکس دي. پرپیښو له قضاوت دمخه فیصله کیږي. پر امریکې د ۱۱د سپتمبر په پیښه کې مړي لا دخښتو د انبارو لاندې وه. ټپیان لا روغتونو ته نه وه وړل شوي د نړېدلو ودانیو دوړې او دودنه لا پورته کیدل چې ولسمشر بوش پر افغانستان د یرغل فیصله وکړه. د دنیا د اخر سر نابرې پیښې د ماته خوړلې او وژل شوی مسعود ناکامه اروا یې کامیابه راژوندۍ کړه او دهغه لاره ویان یې دسیاسي ابدي مرګ نه وژغورل. که بوش د خپل د هیواد د استراتیزیکو ګټو په بنیاد یرغل نه وه کړی، او د مسعود وارثینو د افغانستان په اشغال کې ورسره مرسته شوی نه وه. اوس به د کوهې صافي د قومندان مولوي شفیع الله د بګرامیو د قومندان ضابط ځلمي د زرمت دقومندان مولوي منصور، دغزنې د قومندانانو قاري بابا اوسیدجګړن ....او د نور ورته قومندانانو په شان به د مسعو د نوم هم جنازې سره یو ځای خښ شوي وه.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ